مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

نویسنده: ن . جلیل زاد ۲۰۲۶/۰۱/۱۹

# دا هغه حقیقت دی چې تریخوالی یې د شوکران له زهره هم تریخ دی

په دی لیک کې هغه چیغه پرته ده چې د یوې تاریخي فاجعې له تل نه را پورته کیږي, داسې فاجعه چې یوازې سیاسي نه ده، بلکې فکري، اخلاقي او فرهنګي بڼه هم لري .
دا چیغه نه د طالبانو ستاینه ده او نه د روښانفکر د نفی کولو هڅه، بلکې د هغه بن بست انځور دی چې افغان ټولنه پکې راګیر شوې ده , داسې بن بست چې حتا د طالبانو سخت مخالفان هم کله ناکله طالبان د یوازیني عملي بدیل په سترګه ورته ګوري .
دا حالت د طالبانو د برلاسی نښه نه ده، بلکې د افغان روښانفکر د تاریخي ماتې سند دی . افغان روښانفکر په تېرو لسیزو کې، د نوو افقونو د جوړولو پر ځای، د هویت، قوم، ژبې او تبار پر شخړو کې ډوب پاتې شوی دی .
هغه د دې پر ځای چې د فکر پر څوکۍ کښېني، د تعصب او تفرقې په میدانونو کې سوځېدلی او زړېدلی دی .
نړۍ د نوښت، ټولنیز عدالت او بین فرهنګي خبرو پر لور روانه ده، خو افغان روښانفکر لا هم د قبیلوي روایتونو په دفاع او د مصنوعي مسایلو او سرحدونو په تقدیس بوخت دی .
دا یوازې انحراف نه دی، بلکې یوه طرحه شوې توطیه ده, داسې توطیه چې بهرنیو قدرتونو ډیزاین کړې او د کورنیو نخبګانو په لاس عملي شوې ده.
په شلمه پېړۍ کې افغانستان یوازې د نیابتي جګړو او جیوپولیتیک رقابتونو قرباني نه شو، بلکې د دې هېواد قومي، ژبني او سیاسي نقشه هم د فکري انجینیرۍ په ډګر بدله شوه .
ستر قدرتونه، د وابسته نخبګانو په وسیله، داسې نقشه جوړه کړه چې په هغې کې ملي یووالی ناممکن ښکاره شي .
هر قوم، هره ژبه، هره سیمه په «مساله» واوښته, او روښانفکرانو، د حل پر ځای، خپله د همدې ستونزې برخه وګرځېدل.
په داسې فضا کې طالبانو، له خپلو ټولو سختیو، تاوتریخوالي او محدودیتونو سره، لږ تر لږه ځینې «حد اقل» پېژندلي او په ځینو ځایونو کې یې یو ابتدایي نظم ټینګ کړی دی . دا نظم، که څه هم استبدادي او تنګ دی، خو د روښانفکر د فکري او سیاسي ګډوډۍ په پرتله، د خلکو یوې برخې ته د زغملو وړ ښکاري .
دا پرتله کول د طالبانو له مینې نه راولاړیږي، بلکې د هغه روښانفکر له نهیلۍ څخه سرچینه اخلي چې نه یې بدیل جوړ کړ، نه یې افق ورکړ، او نه یې خلک له تیارو را وایستل.
خو دا وضعیت باید موږ دې ته اړ نه کړي چې طالبان یا هر بل استبدادي جریان د حل په توګه ومنو, برعکس، دا باید موږ دې ته راوبولي چې د افغان روښانفکري بنسټیزه بیا جوړونه وکړو. داسې روښانفکري چې له قوم، ژبې، تبار او بهرنیو تړاوونو څخه ازاده وي, داسې فکر چې د ټولنې اصلي اړتیاوې وپېژني, عدالت، زده‌کړه، ازادي، د انسان کرامت او دوامدار پرمختګ.
د دې لپاره، باید تېر ته بنسټیز نقد وشي، اسطوري څېرې له بت خانې راکوزې شي او له سره جوړول پیل شي .
باید د استبدادزدګۍ او ازادي غوښتنې تر منځ روښانه کرښه وکښل شي .
باید ومنو چې هېڅ ټولنه د تېر د تکرار په وسیله نه ژغورل کیږي . باید دا درک کړو چې د افغانستان نجات، په زړو نظمونو ته په ستنېدو کې نه، بلکې په نوو افقونو د جوړولو کې نغښتی دی.
دا کار اسانه نه دی .
وخت، زحمت، حوصله او زړورتیا غواړي .
دا غواړي چې افغان روښانفکر له برج عاجه ښکته شي، له خلکو سره په ژبه د هغوی خبرې وکړي، او د تفرقې پر ځای د یووالي تخم وکري. که دا بدلون رانه شي، راتلونکي کلونه به نه یوازې له نن نه سخت وي، بلکې لا به هم تیاره او خفه وي .
او همدا هغه حقیقت دی چې تریخوالی یې د شوکران له زهره هم تریخ دی.


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

افغانستان د یوویشتمي پیړۍ په درشل کې له یوې ستري فاجعې سره مخ دی…
دغه فاجعه د فکر او اند د ماتې نښه ده...
افغان روڼاندي لا تر اوسه د هویت له تنګو پولې نه دی اوښتی…
د ژبې، قوم او تبار تعصب د فکر فضا مسمومه کړې ده...
دغه حالت د ټولنیز انجنیرۍ د اوږده تاریخ پایله ده...
د افغانستان قومي او ژبني نقشې د جیوستراتیژیکو پروژو برخه وه...
دغه پروژې د کورنیو مامورینو له خوا پلې شوې دي...
روڼاندي د فکر پر تولید پر ځای په هویتي جګړو کې بند پاتې دی…
موږ لا تر اوسه نه پوهېږو چې له دې ورانۍ هاخوا څه باید وشي...
ځیني وایي چې طالبان لږ تر لږه بنسټیز شیان پېژني…
دا خبره د طالبانو ستاینه نه ده، بلکې د روڼاندي د کمزورۍ اعتراف دی…
د افغانستان ټولنه د نابودۍ په درشل ولاړه ده...
د دې ټولنې ژغورل ورځ تر بلې سختېږي…
دا لیکنه د هېڅ سیاسي جریان دفاع نه ده...
ژغورنه هغه وخت ممکنه ده چې روڼاندي د هویت له بندیزونو ووځي…
افغانستان یوازې د نوي فکر په وسیله له تیارو وتلای شي...
پایله

**آرشیف: مطالب نشر شدهٔ ن. جلیل زاد**


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ